**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د تونس مسلمانانو: له اسلام پرته نجات نشته!

(ژباړه)

**په تونس کې زموږ ګرانو ورونو!**

دا حالت مو سخت خپه کوي چې تاسو په دومره کړاوونو کې وینو. دا چې تر وحشي پانګوال نظام لاندې دومره سخت ژوند لرئ چې په بې سارې توګه د بیو لوړېدو په سبب ان د خپلو لومړنیو ورځنیو اړتیاو په پوره کولو کې له ستونزه سره مخ یاست. دا چې د سمندر په څپو او د هجرت په طوفانونو کې مو خپل ژوند هغه لوېدیځ ته د رسېدلو لپاره د یوه ناڅرګند راتلونکي په هیله قرباني کوئ، چې ستاسو شتمني لوټ کوي. دغه حالت د هغو سترو شتمنیو او د بې شمېره نعمتونو او پټو خزانو په شتون کې روان دی چې الله سبحانه وتعالی زموږ په پاکه ځمکه کې زموږ برخه ګرځولې. د امت سیاسي طبقې (حکمران او اپوزیسیون) د غرب سفارتونو، د هغوی سازمانونو او لوټمارو شرکتونو ته په تسلیمیدلو سره کفارو ته پر موږ د لارې پیدا کولو زمینه برابره کړه، اسلام یې له حکومت کولو او قانون جوړولو څخه لرې او دوی یې پر موږ مسلط وګرځول. داسې اساسي قوانین یې جوړ کړل چې له امله یې موږ د زوال، وروسته پاتې‌والي، سیاسي انحصار او د اقتصادي، ټولنیزو او اخلاقي ناورینونو په سمندرونو کې ډوب کړي یو. د جمهوریت د لومړي، دویم او دریم اساسي قانون تر منځ هیڅ کوم توپیر نه شته؛ دا ټول د انسان په لاس جوړ شوي اساسي قوانین دي، چې د الله سبحانه وتعالی له لوري د نازل شوو احکامو خلاف حکومت کوي. دغه قوانین د غرب پر حاکمیت او هغو استعماري پروژو تاکید کوي چې زموږ عقیده، کلتور او هویت په نښه کوي او هیواد، خلک او سرچینې مو د استعمارګرو کفارو او د هغوی د مالي بنسټونو وړې خولې ته اچوي. د دغو مالي بنسټونو په سر کې د پیسو نړیوال صندوق دی، چې لړ پاتې ده موږ ژوندي تر ستونې تېر کړي.

**اې د زیتون د خاورې مسلمانانو:**

**[إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ]**

**ژباړه:** «یقیناً د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه هېڅوک نه نهیلي کیږي، مګر هغه خلک چې کافران دي.» [یوسف: ۸۷].

د استعمار له دې ستر فرېب او د ظالمو حکامو د خیانت ترڅنګ ډېره نیږدې ده چې د دوی له منګولو خلاص شو او هغې رهبرۍ ته بېرته ستانه شو چې الله سبحانه وتعالی زموږ لپاره خوښه کړې. په دې شرط چې موږ د استعمار ټولې رسۍ وشکوو؛ پر وړاندې یې کلک ودریږو؛ د الله سبحانه وتعالی په رسۍ منګولې ټینګې کړو او د هغه سبحانه و تعالی شریعت ته لکه څنګه چې وایي، غاړه کیږدو:

**[وَأَن لَّوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُم مَّاءً غَدَقاً]**

**ژباړه:** «که چېرې دوی (د حق او ایمان) په لار استقامت وکړي، نو په پرېمانه اوبو به يې خړوب کړو.» [الجن:16]

**د تونس درنو خلکو:** حزب التحریر- ولایه تونس تاسو ته د لاندې مسایلو یادونه کوي:

1- د اسلام نظام د کشیشي دین په څېر له ژوند څخه جلا نه دی. بلکې اسلام هغه عقیده ده چې نظام ترې رامنځته کیږي، هغه عقیده ده چې د انسان واقعیت تثبیتوي. اسلام دا روښانه کوي چې انسان د الله سبحانه وتعالی مخلوق دی، مري او خپل خالق ته د حساب ورکولو لپاره ورګرځي. محمد صلی الله علیه وسلم د الله سبحانه وتعالی له خوا د لارښود، زېري ورکوونکي او ډاروونکي په توګه رالېږل شوی او د ژوند د ټولو اړخونو لپاره هر اړخيز نظام لري او د همدې عقيدې پر بنسټ د ژوند لپاره داسې هراړخيز نظامونه را منځته کوي، چې پر بنسټ يې حکومتولي تنظيموي. موږ مکلف يو چې د اقتصاد، عقوباتو، بهرني سیاست او ... کې د قیامت تر ورځې اسلام پلی کړو، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ]**

**ژباړه:** «په هره چاره کې چې ستاسو ترمنځ اختلاف راشي، د هغې فیصله کونکی الله سبحانه وتعالی دی.» [الشوری:۱۰]

نو د نورو خلکو لخوا حکم او فیصله کول حرام دي، الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

**[وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ]**

**ژباړه:** «او هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی پر نازل کړي قانون باندې حکم نه کوي، دوی کافران دي.» [المائده ۴۴]

2- په اسلام کې د حکومت نظام، موقف او مقام ته د رسېدو لپاره د خلکو د غولولو پر بنسټ نه، بلکې د دوی د چارو د سرپرستۍ پر بنسټ ولاړ دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ؛ فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ...»**

**ژباړه:** «تاسو ټول شپانه (څارونکي او ساتونکي) یاست او تاسو هر یو د خپلو رمو (رعیت) لپاره مسؤل یاست. هغه امام چې د خلکو مشري کوي شپون او د خپلې رمې (رعیت) مسول دی...»

او الله سبحانه وتعالی دغه سرپرستي د خلیفه مسولیت ګرځولی دی. خلک د الله سبحانه وتعالی د قانون د پلي کولو په موخه له خلیفه سره بیعت کوي او له هغه څخه ساتنه کوي. خلیفه دا حق نه لري چې د خپلو نفسي غوښتنو پر بنسټ د چا د تعقیب حکم صادر کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

[وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ]

**ژباړه:** «د دوی ترمنځ د الله سبحانه وتعالی د نازل کړي قانون پر بنسټ حکم وکړه او د دوی د نفسي غوښتنو پیروي مه کوه.» [المائده:۴۹]

خلیفه حق نه لري چې د خپلې خوښې او یا د شتمنو او بانفوذه خلکو په خوښه حکومت وکړي، بلکې خلیفه هم محاسبه کیږي. الله سبحانه وتعالی د خلیفه محاسبه پر مسلمانانو، اشخاصو او ډلو باندې فرض کړې ده چې د خپلو ګټو پر بنسټ نه، بلکې د اسلام پر بنسټ له خلیفه سره حساب وکړي.

3- اسلام خپله اقتصادي پالیسي روښانه کړې، دغه پالیسي په ټولنه کې د ستونزو تشخیصوي پېژني او حل کوي یې. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ]

**ژباړه:** «ترڅو چې مالونه یوازې له تاسو څخه د شتمنو ترمنځ لاس په لاس نه شي.» [الحشر:۷]

الله سبحانه و تعالی داسې مقررات وضع کړي چې په ټولنه کې د یوې کوچنۍ ډلې په لاسونو کې د پیسو د راټولېدلو مخه نیسي او د ټولنې د هر غړي لپاره د کور، خوراکي توکو او جامو بنسټیزې اړتیاوې او همدارنګه درمل، تعلیم او امنیت تضمینوي. الله سبحانه وتعالی پر پیسو زکات وضع کړی، سود او د پیسو ذخیره کول یې منع کړي، څو شتمن خلک وهڅوي چې خپلې پیسې په اقتصادي پروژو کې ولګوي، د پانګې په طبیعي سایکل کې حرکت وکړي، ریښتینې پیسې رامنځته کړي او د اقتصادي ناورینونو لکه انفلاسیون او بیکارۍ مخه ونیسي. همدارنګه اسلام ګاز، تېل، فاسفېټ، منرالونه او تر ځمکې لاندې نورې شتمنۍ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه حدیث پر بنسټ د ټولو مسلمانانو لپاره عامه شتمني ګرځولې ده:

«النَّاسُ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ: فِي الْمَاءِ، وَالْكَلَأِ، وَالنَّارِ»

**ژباړه:** «خلک په درېو شیانو اوبو، څړ ځای او اور (انرژۍ) کې شریک دي.»

پورتني حدیث او نورو نصوصو له خلیفه څخه دا حق اخیستی چې عامه ملکیت بل چا ته ورکړي. خلیفه باید د خلکو د پیسو د لوټولو مخه ونیسي، هغه که د هر چا له لوري وي. الله سبحانه و تعالی همدارنګه هغه امتیازات منع کړي چې استعمارګرو لوټمارو شرکتونو ته ورکول کیږي خو زموږ خلک ورڅخه محروم دي. اسلام د هېواد او خلکو د پرمختګ لپاره د ځمکې د بیارغونې او د ښارې ځمکې د ابادولو احکام وضع کړي دي.

4- د بهرني سیاست په اړه؛ اسلام اسلامي دعوت محور ګرځولی دی او بهرنی سیاست یې پر محور راڅرخي او پر همدې بنسټ له ټولو دولتونو سره اړیکې جوړوي.

**د زرغون تونس درنو خلکو:** مورږ، حزب التحرير ـ ولايه تونس تاسو ته بلنه درکوو، چې استعمار او د هغه سيمه‌ييزې وسيلې له منځه يوسئ؛ سيکولر پانګوال نظام رد او د نبوت پر منهج د راشده خلافت په چوکاټ کې د اسلامي نظام او د هغه متمدنه پروژه پلې کړئ. مورږ ستاسو حالت درک کوو. پوهيږو چې ستاسو د وضعيت او هغه څه ترمنځ توپير خورا لوی دی، چې مورږ ورته بلنه درکوو؛ خو واقعيت دا دی چې د دغه کار ترسره کول هغه چا ته اسان دی چې الله سبحانه وتعالی ورته اسانه کړی؛ شرط يې پوره کړی، د الله سبحانه وتعالی لپاره يې نيت پاک دی. هغه څوک چې پر الله سبحانه و تعالی يې پوره توکل کړی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج د واقعيت د بدلولو لپاره کار کوي او پايله الله سبحانه وتعالی ته پرېږدي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ]**

**ژباړه:** «دا هغه کسان دي چې که چېرته مورږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو، نو لمونځ قايموي، زکات ورکوي، پر نيکو کارونو باندې امر او له بدو کارونو څخه منع کوي. او د ټولو چارو پايله د الله سبحانه وتعالی په لاس کې ده.» [الحج:۴۱]

## حزب التحرير- ولايه تونس

۱۴۴۴ هـ. ق د صفر ۲۶مه

۲۰۲۲م کال، پنجشنبه، د سپټمبر ۲۲مه